# خبردار اوسئ! شراب حرام شول

له انس رضی الله عنه څخه روایت دی وايي: زه د ابو طلحه په کور کې ساقي وم، په هغه ورځ د خلکو شراب "فضيخ" و -له خرما جوړ شوي شراب- نو رسول الله ﷺ اعلانوونکي ته امر وکړ چې خلکو ته اعلان وکړي چې : خبردار اوسئ! شراب حرام شول، انس وايي: ابوطلحه راته وویل: وځه، دا شراب توی کړه، نو زه ووتلم او شراب مې توی کړل، تر دې چې د مدینې په کوڅو کې وبهېدل، ځینو خلکو وویل: " ځینې خلک چې مړه شوي او شراب یې په نسونو کې و (یعنې د هغوی به څه کېږي) نو الله تعالی دا آیت نازل کړ: {لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا}(المائدة: 93 آیت) یعني: پر هغو کسانو چې ایمان یې راوړی او نیک کارونه یې کړي په پخواني خوراک او څښاک کومه ګناه نشته...)

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

انس بن مالک رضي الله عنه خبر ورکو چې دی د هغو کسانو د سقاېې (اوبه ورکولو) په کار کې بوخت و، چې د ده د مور د خاوند ابوطلحه رضي الله عنه په کور کې وو، او هغه مهال د دوی شراب «فضیخ» وو، چې د پخو او نیمه پخو خرماوو ګډ شراب دي، ناڅاپه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اعلانوونکي اعلان وکړ چې: «خبردار! شراب حرام شول» وايي ابو طلحه راته وویل: «وځه، دا شراب توی کړه او چپه یې کړه» نو زه ووتلم، شراب مې توی کړل او چپه مې کړل، نو شراب د مدینې په کوڅو کې روان شول، ځینو خلکو وویل: «ځینې صحابه د شرابو له تحریم نه مخکې وژل شوي او حال دا چې شراب یې په ګېډو کې و» (یعنې د هغوی حکم به څه وي؟) نو الله تعالی دا آیت نازل کړ: {پر هغو کسانو چې ایمان یې راوړی او نیک کارونه یې کړي په هغه څه کومه ګناه نشته چې پخوا یې خوړلي او یا څښلي دي}. [المائدة: 93 آیت]. یعنې: پر هغو کسانو چې ایمان یې راوړی او نیک عملونه یې کړي، ګناه نشته په هغه څه کې چې دوی( له حرمت نه مخکې) خوړلي او یا څښلي دي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee